UNAMA
د ملګرو ملتونو د مرستو د پلاوي دفتر د افغانستان لپاره
د استراتيژيکو اړيکو او وياند دفتر، کابل، افغانستان
مطبوعاتی بيانيه
http://unama.unmissions.org

**د ملګرو ملتونو د عمومی منشی د خاص استازی ستفان دی ميستورا وينا**

کابل – ۲۰ اکتوبر ۲۰۱۰: ملګري ملتونه د ټاکنو د خپلواک کميسيون له خوا په ټولو ۳۴ ولايتونو او د کوچيانو په انتخاباتي حوزو کې د سپتمبر د ۱۸ نيټې د ولسی جرګې لپاره د ټاکنو د لومړنی پايلو خپرول ستايی.

د ټاکنو د خپلواک کميسيون کارمندانو د دي کميسيون د مشر ښاغلی فضل احمد معنوي او د ټاکنو د مشر افسر عبدالله احمدزی تر مشرتابه لاندي ډير زحمت ګاللی چي دې مهمي مرحلی ته ورسيدل.

د ټاکنو کميسيون له ټاکنو څخه په وروسته ورځ کې د چارو په تنظيم کې مثبت رول ښودلی دی او موږ دغه پرمختګ ستايو. د ټاکنو کميسيون ګډوډي په ګوته کړي دي او دې ته ژمن پاتی شوي چي پروسه شفافه او څرګنده وي. موږ د دي ستاينه هم کوو چي کميسيون د لومړنيو پايلو له اعلان څخه پخوا د پايلو بيا کتنه کړي ده. د هغو رايو شمېر چي د کميسيون له خوا باطلی اعلان شوي او د ټاکنو په ورځ نوري بی نظمی ډيري د انديښنی وړ دي.

د ټاکنو پروسه لا ختمه شوي نه ده او دغه پايلی ورستنی نه دي. د ټاکنو د شکايتونو کميسيون اوس بايد په شکايتونو باندي خپل قضاوت وکړي او په هغو نوماندانو بيا له سره غور وکړی چي د ټاکنو د کميسيون له خوا دوي ته تر دې تور لاندي معرفی شوي دي چي په درغليو کې يې لاس درلود.

موږ اوس د دي پروسي په دغه پړاو کې دي ته سترګی په لار يو چي بايد د دي ډاډ تر لاسه شي څو د اثبات په صورت کې په درغليو تورن کسان مسؤل وګڼل شي.

ملګري ملتونه هيله من دي چي د ټاکنو د پروسی دغه برخه هم په دقت سره او په خپل وخت کې سرته ورسيږي. ملګري ملتونو به په همدي ډول د ټاکنو د دواړو موسسو سره خپل تخنيکی او عملياتی ملاتړ ته دوام ورکوي.

Strategic Communication and Spokespersons Unit
United Nations Assistance Mission in Afghanistan (UNAMA)
Kabul, Afghanistan Tel: 079 000 6121; +39 083 124 6121

http://unama.unmissions.org
Subscribe online to ensure you receive news from UNAMA.